دافغانستان دسولې او آزادي کميسيون ۲۰۱۱/۰۷/۲۹

بسم الله الرحمن الرحيم

# اعلاميه

## دافغانستان دسولې او آزادي کميسيون
## او د افغان ولس د سولې شورا

لکه څنګه، چې هيوادوال خبر دي دافغانستان «د سولې او آزادي کمسيون» د څوکلونو را پدېخوا يولړ داسې مختلف کانفرانسونه دايرکړي چې د مختلفو سياسي افکارو، عقايدو اوقومي جوړښتونو مسؤلينو پکې ګډون درلود.
د يادو کانفرانسونو، او اعلاميو د خپراوي په نتيجه کې د سولې لپاره ځانګړو هلوځلو يو واحد استقامت وموند او د افغاني او غير افغاني مراجعو د پام وړ وګرځېد.
موږ دلوی خدای (ج) په توفيق سره ديوشمېر وطنپالو افغانانو په صادقانه هڅو وتوانېدو، ځينې مهم جوړښتونه، خوځښتونه، چې اسلام، آزادي او سولې ته ژمن کسان پکې راټول دي دافغان ولس دسولې شورأ په محور سره راټول او ژر تر ژره يې لمړنۍ غونډه د ترکې په هيواد کې دايره کړو.
د افغانستان دسولې او آزادي کمسيون ددې لوی جمعيت (ټولګي)ديوې کړۍ په حيث ، وټلو شخصيتونو، سازمانونو اوسوله غوښتونکو جوړښتونوته بلنه ورکوي، چې خپله همکاري او ملګرتيا له دې لوی جمعيت (ټولګي) څخه ونه سپموي .
د تاريخ داحساسي شېبې ددې حکم کوي، چې ژر تر ژره د سولې، آزادي او استقلال غوښتونکو وېشلي او بېل بېل ټولګي هرڅومره ډېر سره نږدې او سره يو شي.
د ياد وړ ده، چې داغونډه د هغو ملي شخصيتونو او تقوأ لرونکو د نظر خاوندانو په ګډون دائرېږي، چې د هيواد له ولايتونو، قومونو او په ټوله نړۍ کې دمېشتو مهاجرو افغانانوپه استازيتوب راغلي وي، تر څو، چې زموږ د هيوادوالو زياتې غوښتنې منعکس کړای شي.
د افغانستان دسولې او آزادي کمسيون هيله لري، څو زموږ هيوادوال د ملي يووالي د دښمنانو، منفي تبليغ يوې خواته کېږدي او کانفرانس ته د خپل پراخ تائيد په څرګندونو سره عمومي او ملي بڼه ور وبښي.
يوازې د پراخ نظر په لرلو او دسولې په يوه ګډه جبهه کې په را ټولېدلو سره، کورنيو او بهرنيو جګړه مارانو ته ټينګ ځواب ورکولای شو.
په ډاګه د دې وخت رارسېدلی، چې افغانان په خپل برخه ليک باندی واکمن شي
ومن الله التوفيق
ددې غونډې له نېټې او ځای څخه به وروسته تاسو خبر کړو.

دافغانستان دسولې او آزادي کميسيون
۲۷ـ جولای ۲۰۱۱ آلمان


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ